**مطبوعاتي اعلامیه**

## د ښځو او عدالت پنځمه نړیواله ناسته د CEDAW خدمت کوي

په استانبول کې د ۲۰۲۲م کال، د نومبر له ۴ تر ۵مې «د ښځو او عدالت پنځمه نړیواله ناسته» د ولسمشر رجب طیب اردوغان په وینا سره پرانېستل شوه. دا ناسته د ښځو د مدافع ډلې، د ښځو او ډیموکراسۍ ټولنې (KADEM) د کورنیو او ټولنیزو خدمتونو وزارت په ملتیا تنظیم کړې وه. د یادې ناستې په وروستۍ اعلامیه کې د پیاوړې ټولنې لپاره د یوې پیاوړې کورنۍ پر اړتیا ټینګار شوی.

سږنۍ ناسته، چې اصلي موضوع يې **"فرهنګي کوډونه او میرمنې"** ده، له لومړۍ جملې تر وروستۍ اعلامیې له فرېب ډکه ده. دا سرلیک په حقیقت کې د CEDAW (د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون) "د تعصب او دودونو له منځه وړل" د یوې اصلي مادې په چوکاټ شامل دی او ښکاره ده چې نړیوال استعماري فرهنګ ته خدمت کوي. په دې اعلامیه کې راغلي چې د موډرنیزاسیون ترڅنګ، «د نړۍ د ټولو ښځو لپاره د یو واحد فرهنګي کوډ تحمیلي دی او باید چلنج او پر وړاندې يې اعتراض وشي» او زیاتوي: «د دغه تحمیل پروړاندې درېدل د فرهنګ په اړه د غفلت په مانا نه،  بلکې د هغو قوانینو او ګډوډیو چلنج او تر پوښتنې لاندې راوستل دي چې د بې عدالتۍ، نابرابرۍ او تبعیض لامل کېږي.»

مهمه ده چې د دغو مراسمو په اوږدو کې څو څرګند شوي ټکي وارزول شي:

۱. "ښځې، په ځانګړې توګه هغه چې د استعمار سابقې لرونکو هېوادونو کې ژوند کوي او پر خلکو يې حاکم فرهنګ مسلط کړای شوی، د فرهنګي کوډونو له فشار سره مخ دي"

زموږ خاورو ته د استعمارګرانو له ننوتلو وړاندې، اسلامي فرهنګ مسلمانو او نامسلمانو ښځو ته هغه ازادۍ ډالۍ کړې چې د غرب ښځې يې ان نن هم نه لري. په اسلامي فرهنګ کې د علم، ساینس او سیاست په برخه کې د ښځو لاسته راوړنې ان په دایرة المعارف کې نه ځایېږي. سربېره پردې، موږ د "استعماري ماضي" خبرې نه شو کولای، ځکه چې په اسلامي هیوادونو کې استعمار پای ته نه دی رسیدلی، یوازې بڼه يې بدله کړې ده. اوس مسلمانې ښځې د یوه «فرهنګي استعمار» تر ظلم لاندې دي چې له پوځي هغه ډېر خطرناک دی او دغه راز د هغو مغزونو تر تحمیل لاندې چې په دغه «فرهنګي استعمار» ککړ دي!

۲. "په ډېری هیوادونو کې ښځې د خپلې عقیدې له امله له تبعیض سره مخ دي."

له دې جملې څخه موخه دا ده چې د فرهنګي اشغال له لوري مسموم شوي ذهنونه څنګه د خپلو دیني خویندو پر وړاندې تبعیض کوي. ځکه مسلمانې ښځې دا تبعیض په اسلامي واکمنۍ کې نه، بلکې د غرب د مذهبي او فرهنګي جبر او د غرب د ګوډاګیو او مزدورو رژیمونو له امله تجربه کوي! همدا دوی دي چې د مسلمانو ښځو وطنونه، کورونه، مالونه، ژوند او فرهنګي ارزښتونه او عقیدې لوټوي!

۳. "ښځې باید هغه دندې وا نه خلي چې په عمومي توګه د نارینه وو دنده ګڼل کېږي."

په داسې حال کې چې نارینه په خپله په دنده کې استثماریږي، تاسو پرته له دې چې له مورولی څخه د ښځو د بېلولو او له ماشومانو څخه د دوی د میندو د بېلولو په قیمت ښځې د استثماري پانګوالي نړۍ په څرخ کې له ډېر ناوړه حالت سره مخ کړئ، نور څه وړاندیز لرلی شئ؟ د اسلامي ثقافت او د اسلامي اقتصادي نظام تر تسلط لاندې ښځې د شریعت له حکم سره سم هر هغه کار او مسلک مختنه وړلی شي چې غواړي یې.

۴. تاسو دا هم وویل، "له واکمن قدرت پرته قانوني بیخبنست د ښځو لپاره خوندي چاپیریال رامنځ ته کوي؛ نو داسې اساسي قانون چې د عدالت له محور څخه انحراف نه کوي د ښځو حقوق تضمینوي.»

**اې KADEM او دې ته ورته ټولنو!** په دې کې شک نشته، لکه له نوم څخه مو چې ښکاري، حلاره په ډیموکراسۍ او غربي فرهنګ کې ګورئ. نو تاسو یوازې د اوسني نظام د ګټو لپاره کار کوئ. تاسو په ښکاره دا خبره وکړه چې "اسلام د اوسنۍ نړۍ د ستونزو لپاره د حل لاره نه لري"، تاسو وویل چې د استعمار او انسان په لاس جوړ شوی د استانبول کنوانسیون، CEDAW، د بیجینګ اعلامیه او د دې پر بنسټ قوانین غوره ګڼئ. تاسو هغه وخت مقاومت وکړ، چې ترکیې پریکړه وکړه، چې په ۲۰۲۱م کې د "انقرې کنوانسیون" په بدل کې د استانبول کنوانسیون ته غاړه کیږدي. تاسو د ۶۲۸۴ قانون شمېرې دفاع کوئ، چې کورنۍ تباه کوي او هغه مدني قانون ته مو غاړه اېښې چې کورني تاوتریخوالي ته لار هواروي او د زنا سزا ردوي. تاسو د هغو مسلمانانو پروړاندې اقدام وکړ، چې ستاسو د افکارو د باطلوالي په اړه خبرې کوي. نو بیا څنګه د عدالت په اړه خبرې کولی شئ؟

تاسو د هغو مسلمانو ښځو په ځورولو چوپه خوله یاست چې سیاسي افکار او دریځ یې د اسلامي ژوند غوښتنه کوي او له قدرت ترلاسه کولو څخه ستاسو د درک مخالف نظر لري. تاسو په وار وار ثابته کړې چې د ډیموکراسۍ او فیمینیزم کوډونه غوره ګڼئ. تاسو ولې په ترکیه کې د هغو ښځو له حقونو دفاع نه کوئ، چې د نړۍ د نورو ښځو په څېر د "خلافت تاسیس کړئ!" په شعار ورکولو نیول کیږي، یا هغه څوک چې له چادر سره د درس ورکولو په تور قانوني محاکمې ته کش کېږي. په زندانونو کې په خپلسري ډول لوڅې پلټل کېږي او هغه چې مېړونه یې د وختي واده له امله تر ۸ کلونو زندان محکوم شوي؟

موږ مسلمانې ښځې؛ نه تاسو ته اړتیا لرو، نه مو سازمانونو او نه مو ناستو ته. یوازې مزاحمت مه راته کوئ! کله چې د الله سبحانه و تعالی له ژمنې سر سم د نبوت پر منهج راشده خلافت ډېر ژر بیا تاسیس شي؛ مسلمانې او نا مسلمانې ښځې به له خپلو بشپړو حقونو برخمنې شي؛ په کورنۍ او ټولنه کې به ارام او هوسا ژوند لري. د ځینو برعکس چې یوازې د نورو تر پښو لاندې ګرد دي، دوی به پر سیاست رېښتینې اغیز ولري. بیا به موږ مسلمانې ښځې، نړۍ د یوه ځانګړي فرهنګ ـ د اسلام په وقار او عزت ـ سره پیاوړې کړو.

**د حزب التحرير- ښځو برخې مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴هـ ق کال، د ربیع الاول ۲۸مه**

**۲۰۲۲م کال، د نومبر ۲۲مه**

**د صدور ګڼه: ۰۱۸ / ۱۴۴۴**